مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال: شتیفان څوایګ
ژباړن: ډاکټر محمدآجان مرزئ

۲۰۲۰/۱۲/۲۲

# د شطرنج کیسه

## لومړۍ برخه

د بخار په لوېه بېړۍ کې چې باېد په نیمه شپه له نیویارک څخه د بونیس آئیریس په لور خوځېدلې وای، د تل په شان د خدای په امانۍ ګڼه ګوڼه او تګ راتګ روان و. مېلمانه له وچې نه په ګډه وده توګه راروان وو، تر څو د خپلو ملګرو بدرګه وکړي. تلګراف رسوونکو چې خولۍ یې کږې اغوستې وې، په لوړ غږ نومونه یادول او په چټکتیا یې له یوه سالون بل ته دانګل، بکسونه او ګلان وړل کېدل، ماشومان په کنجکاوۍ په زینو کې ښکته او پورته کېدل او آرکستر د بېړۍ په عرشې کې په نه ستړې کېدونکې توګه د خلکو د سرګرمۍ لپاره موسیقي غږوله. زموږ ترځنګ، په داسې حال کې چې له خپل یوه آشنا سره له دې ګڼې ګوڼې لېرې د بېړۍ د ګرځېدنې په عرشې کې په خبرو بوخت وم، دوه درې ځلې د کمرې د څراغ پړکونه وشول. داسې ښکارېدل چې خبریالانو له کوم نامتو سړي څخه د بېړۍ له خوځېدو لږه موده مخکې په چټکتیا عکسونه اخستل او مرکه یې ورسره کوله. زما ملګري ور وکتل او مسک شو. «په بېړۍ کې یو کم پېدا مرغه، چینتوویچ، هم سفر کوي.» کله چې ما په حېرت وروکتل نو راته وه یې ویل، «میرکو چینتوویچ، د شطرنج نړېوال اتل. د سیالیو په لړ کې په ټوله امریکې کې، له ختیځ تر لوېدیځ، راګرځېدلی دی او اوس د نوو بریاوو لپاره ارجنتاین ته ځي.»

په ریښتیا هم د دې ځوان نړېوال اتل او آن د هغه چټک شهرت او ودې په هکله ځینې ځانګړې ټکي راپاد شول. زما ملګري، چې ورځپاڼې یې په ځیر لوستلې، وکولای شول د هغه په اړه زما معلومات پر خپلو نورو کیسو هم بشپړ کړي. چینتوویچ څه ناڅه یو کال پخوا، ډېر ژر وکولای شول چې د شطرنج د هنر له پخوانیو استادانو لکه الیېچین، کاپابیانکا، تارتاکوور، لاسکر، بوګولیوبوف سره په یوه کتار کې ودرېږي. په ۱۹۲۲ کال کې د نیویارک د شطرنج په سیالیو کې د اوولس کلن نابغه ریچحیوسکي له راښکاره کېدو وروسته، په دې ځلانده هنر کې بل هیڅ چا دومره عامه غوغا نه وه راپورته کړې، ځکه چې د ذکاوت له مخې یې د دومره ودې اټکل نه کېدو. دا راز ډېر ژر راجوت شو چې د شطرنج دې اتل په شخصي ژوند کې د دې توان نه لرلو چې په کومه ژبه یوه جمله هم له املايي غلطۍ پرته ولیکي. د ده یوه په غوسه شوي همپوړي په دې اړه په رېشخند وېل: «د هغه بېسوادي په ټولو برخو کې نړېواله کچه لري.» هغه د سلاویا په جنوب کې د دانیوب د سیند د یوه ډېر بېوزلي جاله وان زوی و، چې جاله یې یوه شپه د غنمو له یوې بخارۍ بېړۍ سره ټکر شوه او د پلار له مړینې وروسته، کله چې دوولس کلن هلک و، د لیرې پرتې سیمې کشیش رحم پرې وکړو او په فرزندۍ یې ومنلو. دې مهربان کشیش ډېر زیار وه ایست چې په کورنۍ زده کړو کې هغه څه ورزده کړي چې دې کم خبرو، بې عقله او پلن تندي ماشوم د کلي په ښوونځي کې نشول زده کولای.

خو دا ټولې هلې ځلې بې پایلې پاتې شوې. میرکو به د لیک ټکو ته، چې سل ځلې ورته تشریح شوي وو، په حېرانتیا کتل، بې له دې چې پرې پوه شي. د ده ماغزو چې ډېر ورو یې کار کاوه، د لوست د ډېرو آسانو لوستونو د پوهېدو توان هم نه درلود. آن په څوارلس کلنۍ کې به یې هر ځل د حسابولو لپاره له ګوتو کار اخیست او آن هغه وخت چې تنکی ځوان شوی و، د ورځپاڼې او کتاب لوستل ورته ډېر ګران کار و. میرکو تنبل او نافرمانه هم نه و. هر څه به چې ورته وېل کېدل په فرمانبرادارۍ به یې ترسره کول، اوبه یې راوړلې، لرګي یې ماتول، په کرونده کې یې مرسته کوله، پخلنځی یې پاکولو او هره ورسپارل شوې دنده به یې په صداقت او ځورونکي ورووالي، خو سره له دې هم ترسره کوله. هغه څه چې د دې بې عقله ځوان په هکله د مهربان کشیش د غوسې لامل ګرځېدل، د هغه بې تفاوتي وه. هیڅ کار یې بې له غوښتنې، په خپله نه ترسره کولو، هیڅکله یې پوښتنه نه کوله، له نورو ځلمیانو سره یې لوبې نه کولې او که چا به کومې مشغولا ته ونه ګمارلو، په خپله یې ځان نه مشغولولو. کله به چې میرکو د کور کار ترسره کړو، په خپله کوټه کې به حېران ناست و او سترګې به یې په څرځایونو کې د پسانو په شان له کنجکاوۍ تشې وې، بې له دې چې د خپلې شاوخوا پېښنو ته پاملرنه وکړي. کله به چې کشیش له خپل چلم څخه خوند اخستلو او د ژاندارم له سرساتنمن سره به یې د تل په شان د شطرنج درې لوبې کولې نو دا ځلمی به چې ژړ وېښتان یې لرل، په چوپه خوله د دوی ترځنګ ناست و او په نیم پټو او خوبلنو سترګو به یې په بې تفاوتۍ، چهار خانه تختې ته کتل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د یوه ژمي پر ماښام، کله چې دواړه سیالان د شطرنج په ورځنۍ لوبه سخت مشغول وو، د کلي له سړک د کنګل د ګاډۍ د زنګونو آواز لوړ او لا لوړ تر غوږ شو. یو بزګر چې خولۍ یې له واورې ډکه وه، په چټکتیا راننوت او وه یې ویل چې زړه مور یې د مړینې پر حال پرته ده او له کشیش څخه یې وغوښتل چې ژر له ده سره لاړ شي تر څو د ده د مور د مړینې مراسم ترسره کړي. کشیش سمدلاسه ورسره لاړو. د ژاندارم سرساتنمن چې خپل د بیرو ګیلاس یې لا خالي کړی نه و، له تلو مخکې یې خپل د تنباکو پیپ بل کړو او ځان یې د خپلو درندو موزو اغوستلو ته چمتو کاوه. په دې وخت کې یې میرکو ته پام شو چې د شطرنج پر تخته ناتمامې لوبې ته ځیر دی.
سره له دې چې پوره پوهېدو چې دا خوبلن ځلمی به پر تخته آن یوه دانه هم سمه ونشي خوځولای، په ټوکو یې ورته وویل: «غواړې چې لوبه راسره پای ته ورسوې؟» ځلمي په شرم وروکتل، سر یې ورته وخوراوه او د کشیش پر ځای کیناست. د ژاندارم سرساتنمن له څوارلسو چالونو وروسته مات شو او دا یې هم ومنله چې ماته یې د کوم بې احتیاطه حرکت پایله نه وه. دوهمه لوبه هم همدا ډول پای ته ورسېده.
«د بلعم خر!!». دا خبره کشیش، کله چې راستون شو، د ژاندارم سرساتنمن ته چې د انجیل په هکله یې زیات مالومات نه لرل، وکړه او ورته یې روښانه کړه چې دوه زره کاله پخوا هم همداسې یوه معجزه رامنځته شوې وه او یو ګنګ په ناڅاپه توګه د حکمت په ژبه په خبرو شوی و. سره له دې چې شپه ناوخته شوې وه، کشیش خپل نیم بې سواده خدمتګار ته د یوې لوبې بلنه ورکړه. میرکو هغه هم په آسانه توګه مات کړ. میرکو په سخته، آرامه او ثابته توګه لوبه کوله، بې له دې چې خپل ټیټ تندی یو ځل هم له تختې پورته کړي. خو په زیات باور یې لوبه کوله. له هغې وروسته د څو ورځو په لړ کې نه د ژاندارم سرساتنمن او نه هم کشیش وتوانېدو چې لوبه ترینه وګټي. اوس نو کشیش ته چې په نورو برخو کې یې د خپل شاګرد وروسته پاتې والی له هر بل چا ښه تشریح کولای شو، دا کنجکاوي پیدا شوه چې دا یو اړخیزی او ځانګړی استعداد به تر کومه حده له یوې سختې آزموینې تېر شي. له هغې وروسته یې چې د میرکو د سر ژړ او کډوډ وېښتان، د دې لپاره چې تر یوې اندازې د لېدو وړ وګرځي، د کلي د ډم له خوا لنډ کړل، له ځانه سره یې د کنګل په ګاډۍ کې ګاونډې وړوکي ښار ته بوتلو. هلته، د ښار د چوک په یوه قهوه خانه کې یوه ګوښه ورته مالومه وه چې د شطرنج ځانکړو لوبغاړو لوبې پکې کولې. دی په خپله د هغوی په وړاندې ډېر ناتوان و. کله چې کشیش پنځلس کلن ځوان چې تک ژړ وېښتان او سرې اننګې یې لرلې، د کوټ لاندې یې د پسه د پوټکي اوږدې موزې اغوستې وې، قهوه خانې ته د ننه ټیله کړو، هیڅ چا په حیرانتیا ورونه کتل. ځوان هلک په وارخطا توګه په ټیټو سترګو، تر هغه وخته په یوه ګوښه کې ودرېد تر څو یو چا د شطرنج یوه میز ته راوبللو. میرکو په لومړۍ لوبه کې مات شو، ځکه چې له کشیش سره په لوبو کې یې هیڅکله د سسیلیا په حرکت د لوبې پیل نه و لیدلی. په دوهمه لوبه کې د تر ټولو تکړه لوبغاړي په وړاندې مساوي شو. له دریمې او څلورمې لوبې وروسته یې ټول لوبغاړي، یو پر بل پسې مات کړل.
په یوه کوچني سلواکي ښار کې زیاتې پر زړه پورې پېښې نه رامنځته کېږي. په دې توګه د دې کلیوال اتل لومړنیو لوبو د راغونډ شوو شخصیتونو په وړاندې سمدلاسه غوغا رامنځته کړه. ټولو په یوه خوله پرېکړه وکړه چې دا حیرانوونکی ځوان باید تر بلې ورځې پورې په ښار کې پاتې شي، تر څو د شطرنج د کلب نور غړي سره راټول کړي، له ټولو د مخه بوډا ګراف سیمیچ ته د ده په کلا کې خبر ورکړ شي چې له شطرنج سره یې ډېره مینه لرله. کشیش، چې خپل فرزندي زوی ته یې په ویاړ کتل خو نه یې غوښتل په خپله خوشحالۍ کې د یکشنبې ورځې عبادت قضا کړي، حاضر شو چې میرکو د یوې بلې آزموینې لپاره په ښار کې پرېږدي. ځوان چینتوویچ ته د شطرنج د ډلې په لګښت په هوټل کې ځای ونیول شو او پر همدې ماښام یې د لومړي ځل لپاره یو عصري تشناب ولید. د یکشنبې ورځې له غرمې وروسته، د شطرنج کوټه له خلکو ډکه وه. میرکو چې څلور ساعته د شطرنج تختې په وړاندې چوپ ناست و، بې له دې چې یوه خبره هم وکړي او یا خپلې سترګې له تختې پورته کړي، لوبغاړي یې یو پر بل پسې مات کړل. په پای کې وویل شول چې له څو تنو سره دې په عین وخت کې لوبه ترسره شي. دې بېسواده ځوان ته په عین وخت کې له بېلابېلو لوبغاړو سره د لوبې تشریح کولو زیات وخت ونیولو. خو له هغې وروسته چې د میرکو سر پر دې قاعدې خلاص شو، په چټکه توګه یې دنده ورته روښانه شوه، له خپلو درندو او غچ غچ کوونکو بوټانو سره، ورو ورو له یوه میز بل میز ته تللو او په پای کې یې له اتو لوبو، اوه هغه وګټلې.
اوس نو لویې سلامشورې پیل شوې. سره له دې چې دا نوی اتل اصلاً د دې ښار اوسیدونکی نه و، په ښار کې د کورنې ملي ویاړ اور بل شو. ښایي دا کوچنی ښار به چې تر اوسه د هیواد په نقشه د چا پام د هغه شته والي ته نه و اوښتی، توانېدلای وای نړۍ ته د لومړي ځل لپاره د یوه نامتو سړي د وریپژندنې ویاړ ترلاسه کړي. یوه دلال چې نوم یې کولر و او تر اوسه یې یوازې د ګارنیزیون د کابارې لپاره سندرغاړې برابرولې، وویل چې که د یوه کال لپاره پیشکي پیسې ورکړل شي نو د وین په ښار کې به یې د یوه غوره کوچنې اتل له خوا د شطرنج په هنر کې وروزي. ګراف سیمچیک چې د شپیتو کلونو په لړ کې د شطرنج په ورځنیو لوبو کې له دا شان یوه عجیب سیال سره مخ شوی نه و، د پیسو ورکول سمدلاسه ومنل. د جاله وان زوی حیرانوونکې مسلکي وده له همدې ورځې وروسته پیل شوه.
میرکو له شپږو میاشتو وروسته د شطرنج تخنیک پر ټولو رازونو برلاسی شو، خو له یوې نیمګړتیا سره چې وروسته په مسکلي کړیو کې زیاته اندازه لیدل کېدله او ملنډې پرې وهل کېدلې، ځکه چې چینتوویچ هیڅکله ونشو کړای چې د شطرنج یوه لوبه هم له یاده او یا له مسلکي پلوه په ړنده توګه ترسره کړي. هغه د دې توان نه لرلو چې د شطرنج میدان ته د تصور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په بې سرحده خونه کې ځای ورکړي. د شطرنج د تورې سپينې تختې څلور شپېته خونې او دوه دېرش دانې يې بايد تل مخې ته پرتې وای. ده د خپل نړيوال شهرت پر مهال تل د شطرنج يوه غونډېدونکې جيبي تخته له ځانه سره ګرځوله، ترڅو د اتلولۍ د يوې لوبې د تکرار او يا د يوې ستونزې د حلولو لپاره د دانو ځای ته وکتلای شي. دا يو سطحي کمښت و چې د تصور د قوت يو کمښت يې راڅرګند کړ او د ماهرو کسانو په کړيو کې خبرې اترې پرې کېدلې، لکه د موسيقۍ پوهانو په ډله کې د يو تکړه موسيقدان په اړه خبرې کول چې د موسيقۍ نوټونو ته له کتو پرته نه د موسيقۍ د غږولو او نه هم د تنظيمولو وړتيا ولري. خو دا حيرانوونکې ځانګړنه د ميرکو د چټک پرمختګ د مخنيوي لامل ونه ګرځېده. ده د اوولس کلنۍ په عمر د شطرنج زيات شمېر جايزې ګټلې وې. په اتلس کلنۍ کې د هنګري او په شل کلنۍ کې نړېوال اتل شو. ډېر زړور اتلان چې هر يو يې د ذهني استعداد، تخيل او جسارت له مخې له ده زيات برلاسی و، د ده د سخت او ساړه منطق په وړاندې مات شول، د تنبل کوتوسوف په وړاندې د ناپليون د ماتې په شان او د فابيوس کونکاتور په شان چې هانيبال ته يې ماته ورکړه او ليويوس د هغه په اړه ليکي چې په ماشومتوب کې يې همدا شان د لټۍ او بې عقلۍ نښې نښانې لرلې. په دې توګه د شطرنج لوبغاړو په ځلانده کتار کې چې په ډله کې يې د ذکاوت د برلاسي بېلابېل ډولونه، لکه فيلسوفان، رياضي پوهان، محاسبان، له تخيل ډک او زيادتره وختونه خلاق کسان شامل وو، د لومړي ځل لپاره يو پردی سړی د تفکر نړۍ ته ورننوت، يو کم عقل، لږ خبرې کوونکی بزګر هلک چې له ټولو تکړه ژورناليست هم ونشو کړای د هغه له خولې د چاپولو وړ کومه خبره راوباسي. البته ډېر ژر د هغو سوچه او سمو جملو ځای چې بايد چينتوويچ ورځپانو ته وېلې وای، د هغه په اړه کيسو ډک کړو. کله به چې د شطرنج له تختې، چېرې چې بې خاری اتل وو، را جګ شو، نو پر يوه مضحک او کابو د خنداوړ کس به بدل شو. سره له دې چې توره دريشي به يې اغوستې او د مرغللو له پينګ سره يوه لويه نکتائي به يې وهلې وه، او سره له دې چې د ګوتو نوکان به يې په دقت پالش کړې وو، په خپل عمل او کردار کې به هماغه بزګر هلک و چې په کلي کې به يې د کشيش کوټه جارو کوله. ده په ناوړه او بې شرمه توګه زيار اېستلو چې له خپل شهرت او استعداد څخه په يوه مبتذله توګه هغه څه ترلاسه کړي چې سړی يې په پيسو ترلاسه کولای شي. له يوه ښار څخه به بل ښار ته تللو او شپې به يې تل په ارزانو هوټلونو کې تېرولې. که سمې پيسې به ورکړ شوې، نو په ډېرو سطحي کلبونو کې به يې لوبه کوله. خپل عکس يې د صابون په اعلانونو کې خپرولو او آن خپل نوم يې د <د شطرنج فلسفه> په نامه کتاب لپاره خرڅ کړ، کوم چې په واقعيت کې يوه واړه فرانسوی محصل د يوه متشبث ناشر لپاره ليکلی و، هغه هم د خپلو سيالانو ملنډو ته له پاملرنې پرته، کوم چې پر دې خبره پوره خبر وو چې آن درې جملې هم په سمه توګه نشي ليکلی. چينتوويچ هم، د هر بل سرسخت انسان په شان، د مضحکو خبرو لپاره احساس نه لرلو. په نړېواله اتلولۍ کې له برياليتوب وروسته يې سوچ کولو چې د نړۍ له ټولو غوره انسان دی. او پر دې خبرې له پوهېدو وروسته چې ټولو تکړه او باسواده کسانو ته يې د دوی په خپل مېدان کې ماته ورکړې ده، او دا چې د هغوی په پرتله زياتې پيسې يې ګټلې دي، د هغه لومړنۍ بې باوري پر يوه ساړه غرور بدله شوه چې زيات وخت به يې په روښانه او بې پروا توګه ښکاره کوله.

زما ملګري چې د چينتوويچ د ماشومانه تکبر په اړه يې ځينې مهمې کيسې راته وکړې، وويل: «نو دومره چټک شهرت به څنګه ونشي کړای چې داسې يو پوچ سر مردار کړی؟ څنګه کېدای شي چې د بانات د کلي يو يوويشت کلن کليوال ځوان چې پر يوه تخته د دانو په آخوا دې خوا کولو، په يوه اونۍ کې د خپل کلي د ټولو اوسيدونکو د يوه کال د ونو ماتولو او سخت کار د زحمت له مزد څخه زياتې پيسې ترلاسه کوي، د غرور نشه ونلري؟ او که سړی دا پوهه ونلري، چې په نړۍ کې د ريمبرانت، بيتهوفن، دانتې او ناپليون په شان کسان هم موجود وو، نو ساده خبره نده چې سړی به سوچ وکړي چې يو لوی او مهم انسان دی؟ دا هلک په خپلو يو اړخيزه ماغزو کې پر يوازې يوه خبره پوهېږی او هغه دا چې له مياشتو راپدې خوا يې د شطرنج يوه لوبه هم نده بايللې او دا چې نه پوهېږي چې له شطرنج او پيسو پرته په نړۍ کې نور ارزښتونه هم شته دي، نو بايد هرومرو پر ځان مغرور وي.»

زما د ملګري دې معلوماتو زما کنجکاوي راوپاروله. زه تل هغو کسانو چې يوازې په يوه اړخيز نظر کې بند وو، ځان ته راکاږلم، ځکه هرڅومره چې انسان ځان محدودوي په هماغه اندازه بې انتهائۍ ته نږدې کېږي، د دې لپاره چې همدا شان ظاهراً له دنيا وتلي انسانان ځانته په خپلو ځانګړو موادو د موريانې په شان يوه عجيبه، بينظيره او اختصاري دنيا جوړوي. له همدې کبله مې په روښانه توګه ووېل چې دا د يو اړخيز ذکاوت خاوند نمونه به د خپل دوولس ورځني سفر په لړ کې، د ريبيو تر ښاره تر څېړنې لاندې ونيسم.

خو زما ملګري اخطار راکړ او وه يې ويل: «خو ته به په دې کار کې بريالی نشې. ترهغې چې زه پوهېږم تر اوسه هيڅ څوک پر دې نه دی توانيدلای چې د چينتوويچ پر روان پوه شي. دا بزګر هلک د خپل زيات محدوديت تر شا زياته اندازه هوښياری هم لري، ترڅو يې څوک پر راز پوه نشي. هغه د دې کار لپاره له يوه ډېر ساده تخنيک څخه کار اخلي او هغه دا چې د خپل هيواد له خلکو پرته چې په کوچنيو مسافرخانو کې سره راغونډيږي، له بل هر چا سره له خبرو کولو ډډه کوي. کله چې کوم تحصيل لرونکی کس وګوري، نو ځان پټوي. په دې توګه هيڅ څوک ادعا نشي کولای چې له ده څخه بې يوه بې عقله کلمه هم اورېدلې ده او د هغه پر نامحدوده ناپوهۍ پوه دی.» وروسته پوه شوم چې زما د ملګري خبره سمه وه. د سفر په لومړيو ورځو کې چا نشول کولای له بېځايه مداخلې پرته چې زما تګلار نده، ځان چينتوويچ ته ورنږدې کړي. کله به په بېړۍ کې ګرځېدو، په داسې حال کې چې لاسونه به يې د ناپليون د نامتو انځور په شان، په سوچ کې ډوب،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ترشا نيولي وو، او دومره چټک به روان وو چې که چا به غوښتل خبرې ورسره وکړي، نو باېد منډې يې ورپسې وهلې واى.
هيڅ وخت د ببړۍ د ليدنو او کتنو کوټو، بار او د سګرټ څکولو کوټې ته نه تلو. څرنګه چې د ببړۍ يو خدمتګار زما له پټې پوښتنې وروسته راته وويل، د ورځې زياته برخه به يې په خپلې کوټې کې د شطرنج پر يوه لويه تخته پر تمرين تېروله.
له درې ورځو وروسته دې خبرې وځورولم چې د هغه د مدافعې د پياړي تخنيک مهارت، هغه ته زما د نږدې کېدو د ارادې په پرتله زيات و. زه تر دې مودې په خپل ټول عمر کې د شطرنج له کوم بل لوبغاړي سره آشنا شوى نه وم، او هر څومره مې چې د داشان يوه سړي په اړه د تصور کولو زيار ايستلو، په هماغه اندازه ټول عمر د ماغزو داسې يو فعاليت، يوازې د تورو او سپينو څلور شپېټو خانو پر شاوخوا، راته له تصور بهر ښکارېدو. ما د دې <شاهانه لوبې> د زياتې جذبې په اړه تجربه لرله، يوازنۍ لوبه چې انسانانو خلق کړې ده، هيڅ دول تصادف ته تړاو نلري او خپل ثمر يوازې له پوهې او يا د رواني استعداد له يوې ټاکلې بڼې ترلاسه کوي. او که سړى شطرنج ته لوبه ووايې نو آيا پر ځان د يوې محدودونکې ناپوهۍ پړه نه اچوي؟ آيا دا لوبه يو علم، يو هنر نه دى چې د حضرت محمد د ډبرې په شان د ځمکې او آسمان ترمنځ ځوړند دى، د ټولو تضادونو تر منځ يوه بېڅاري اړيکه؛ ډېره زړه خو سره له دې تل نوې، په اصل کې ميخانيکي خو د تخيل پر بنسټ اغيزناکه، په هندسي ثابت مکان کې محدوده او د بېحسابه ترکيبونو خاونده، په دوامداره توګه وده کوونکې او سره له دې هم ژوره، د سوچ يوه لاره چې پر هيڅ ختمېږي، رياضي چې هيڅ څه نه حسابوي، يو هنر چې آثار نه رامنځته کوي، بې عنصره مهندسي، خو سره له دې په خپل شته والي کې، په ثابته شوې بڼه، له ټولو کتابونو او اثارو زياته پاتې کېدونکې لوبه، يوازنۍ لوبه چې په ټولو ملتونو کې او هر وخت موجوده ده او هيڅوک نه پوهېږي چې کومې الهي دنيا ته رااستولې ده، تر څو زړتنګي له منځه وېسي، هوښياري راوېښه کړي او روح ته قوت وبخښي. د دې لوبې سر او پاى چېرې دى؟ هر ماشوم کولاى شي د هغې لومړني قواعد زده کړي، هر کم عقل سړى کولاى شي وه يې آزمويي .خو دا لوبه په تنګو او نه بدلېدونکو مربعې خانو کې د استادانو يوازې داسې يوه ډله رامنځته کوي چې له نورو ټولو انسانانو سره د پرتلې وړ نه ده، داسې انسانان چې يوازې په شطرنج کې استعداد لري، ځانګړې نابغې چې ليرليد، حوصله او تخنيک يې د رياضي پوهانو، شاعرانو او موسيقي پوهانو په څېر په يوه ټاکلي ويش او يوازې په يوه بل ډول او ترکيب کارول کېږي. ښائي چې د پخوا زمانو د شخصيت پېژندنې يوه مينه وال به د شطرنج د دا شان استادانو ماغزه عمليات کړي واى، تر څو پوه شي چې آيا د شطرنج د دا شان نابغو په ماغزو کې کومه خاصه برخه، د شطرنج کوم ډول عضله او يا د شطرنج کومې لوړې برخې، د نورو انسانانو په پرتله زياتې موجودې دي او که نه. او د چينتووچ قضيې به چې په وجود کې يې دا ځانګړى نبوغ، په يوه خروار مړو ډبرو کې د سرو زرو د يوې کرښې په شان، په مطلقه چوپتيا کې ترسترګو کېږي، يو دا شان شخصيت پېژندونکى څومره راپارولى و. په اصل کې دا حقيقت ماته له پيله روښان و چې دا ډول بېسارې او عالي لوبه باېد خپل ځانګړې لوبغاړي رامنځته کړي. خو څومره سخته او ناشونې ده چې د يوه ذهني فعال انسان د ژوند په اړه تصور وکړو چې نړۍ يې يوازې د سپينو او تورو لارو ترمنځ محدوده ده او د خپل ژوند کاميابى د دوه دېرشو دانو په آخوا او دې خوا کولو، مخته او شاته خوځښت کې لټوي، يو انسان چې په نوي حرکت کې د پياده پر ځاى د آس حرکت ته ترجيح ورکول لوړ عمل او د شطرنج د تختې په زاويه کې يو کوچنى کنج ورته جاودانګي ښکاري - يو انسان يو هوښيار انسان، بې له دې چې ليونى شي لس، شل، دېرش، څلويښت کاله د خپل فکر ټول قوت تل پر دې بې ارزښته کار تېروي، ترڅو يو له لرګي جوړ شوى پاچا د لرګيو د يوې تختې پر سر په کنجونو کې راګير کړي.
اوس نو يوه داسې پديده، يوه داسې نابغه او يا يو داسې حېرانوونکى احمق له ماسره ډېر نږدې و، په يوه ببړۍ کې له ما شپږ کوټې لېرې. او ما بد بخت چې د ذهني شيانو لپاره کنجکاوي مې تل پر شور او شوق بدلېږي، نشو کولاى ځان ورنږدې کړم. ما د دې کار لپاره ډېر پوچ چالونه پلان کړل: دا چې د ده غرور، ګټې د يوې ارزښتناکې ورځپاڼې لپاره د مرکې له لارې راوپاروم او يا دا چې د ده حرص په سکاټلند کې د يوې ګټورې لوبې په وړانديز راوپاروم. خو بيا دا خبره راياد شوه چې د کبک د نيولو لپاره د ښکارچي بريالى تخنيک د جوړه کېدو لپاره د ښځينه کبک د غږ باسل دي. د شطرنج د يوه استاد د پام رااړولو لپاره د شطرنج له لوبې بل کوم ښه کار شته؟
زه هيڅ وخت د شطرنج دومره تکړه لوبغاړى نه وم، له دې کبله چې د شطرنج لوبه به مې يوازې د خپل پام غلطولو لپاره کوله. کله چې د يو ساعت لپاره د تختې مخې ته کينم، دا کار په هيڅ وجه د دې لپاره نه کوم چې ځان ستړى کړم، بلکه د دې لپاره چې خپل فکر پرې آرام کړم. زه واقعاً د شطرنج <لوبه> کوم، په داسې حال کې چې د شطرنج حقيقي لوبغاړي، جدي لوبغاړي، که د دې نوې کلمې د رامنځته کولو جرأت وکړم، پر شطرنج <جدي کار> کوي. خو د شطرنج د لوبې لپاره، د مينې په شان، يوه بل تن ته هم اړتيا موجوده ده. دا وخت زه لا نه پوهېدم چې آيا په ببړۍ کې له موږ پرته د شطرنج کوم بل لوبغاړى هم موجود دى او که نه.
له بوړو مې د دې کسانو د راباسنې لپاره د سګريټ څکولو په کوټه کې يو ابتدايي او ساده تلک کېښود او له خپلې مېرمنې سره مې چې له ما يې هم خرابه لوبه کوله، د مرغانو د نيوونکو په توګه د تختې مخې ته کيناستم. لا مو شپږ حرکتونه نه وو ترسره کړي چې يو تن چې په تېرېدو و، ودرېد او يوه دوهم تن د لوبې د کتنې اجازه راڅخه وغوښتله. بلاخره زما د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خوښې وږ سيال راغو او له ما سره يې د يوې لوبې غوښتنه وکړه. دا سړي ميک کانر نومېده او د ځمکې لاندې ودانيو انجنير و. څرنګه چې ما واورېدل، په کليفورنيا کې يې د نفتو لپاره په حفرياتو کې زياته شتمني ترلاسه کړې وه، يو قوی غړي لرونکی سړی و، د زامو هډوکي يې کلک او څلور کنجه و، کلک غاښونه يې لرل، د مخ رنګ يې زيات سور و، چې ښايي علت به يې، لږترلږه، زياته اندازه ويسکي څښل و. له بده مرغه د ده ډېر پراخو او تقريباً د پهلوان په شان مټو د لوبې په لړ کې هم خپل قوت څرګند کړو، ځکه چې دا ښاغلی ميک کانر يو له داسې پر ځان او برياوو مينو انسانانو څخه و چې په يوه ساده او بې معنی لوبه کې بابلنه هم پر خپل شخصيت سپکاوی بولي. دې سړي چې عادت يې لرلو په ژوند کې بې له دې چې د چا په فکر کې وه اوسې مخ په وړاندې لاړ شي او حقيقي برياوو نازولی و، دې مضبوط بدن لرونکي سړي چې په پرمختګ کې بل کوم چا مرسته نه وه ورسره کړې، دومره پر خپل برلاسي باور لرلو چې د ده په وړاندې هر مقاومت د بې ځايه بغاوت او تقريباً سپکاوي په توګه راپارولو. کله چې يې لومړی لوبه وبايلله بدخويه شو او په ستونزمنه او آمرانه توګه يې وويل چې لوبه يې يوازې د دقت نه کولو له امله وبايلله. د درېم ځل بايلني پړه يې په نږدې کوټه کې پر شورماشور واچوله. له هر ځل بايلني وروسته يې د انتقامي لوبې غوښتنه کوله. په لومړي سر کې مې د هغه له سرسخت غرور څخه خوند واخيست. په پای کې مې دا سرسخت غرور ميز ته يوازې د نړۍ اتل د راجلبولو لپاره زما د اصلي ارادې د حتمي جانبي اغېز په توګه ومنلو.

په درېمه ورځ پر دې کار تر يوه حده بريالی شوم. نه پوهېږم چې چېنتوويچ د ګرځېدني له عرشي زموږ خواته کتل چې د شطرنج د تختې مخې ناست وو او يا دا چې په تصادفي توګه يې د سګرټ څکولو کوټې ته د راتلو افتخار وبخښلو - په هرحال، کله چې وه يې ليدل چې موږ غيرمسلکي کسان د ده پر هنر بوخت يو، په غيرارادي توګه يو ګام رانږدې شو او له مناسب واټن څخه يې زموږ تختې ته يو ارزوونکی نظر واچاوه. دا مهال باېد ميک کانر حرکت کړی وای. د چينتوويچ لپاره همدا يو حرکت کافي و تر څو پوه شي چې زموږ غيرمسلکي هڅ او هاند د ده د استادۍ د لېوالتيا ارزښت نلري. هماغسې چې د کتابونو په يوه پلورنځي کې موږ ته وړاندې شوې يوه خرابه ليکل شوې پوليسي کيسه په څرګنده توګه، بې له دې چې کتاب خلاص کړو، بېرته پر خپل ځای کې ږدو، هغه هم زموږ له مېز نه ليرې او د سګرټ څکولو له کوټې بهر شو. ما له ځانه سره سوچ وکړو «وه يې تللو او ډېر سپک ورته ښکاره شولو.» دې ساړه او له سپکاوي ډک نظر لږ څه په غوسه کړم او د خپلې نارضايتۍ د ښودنې لپاره مې ميک کانر ته ووېل:
«داسې ښکاري چې ستاسو حرکت د استاد زياد خوښ نه شو.»
«کوم استاد؟»
ما هغه ته ووېل چې هغه ښاغلی چې همدا اوس زموږ له څنګه تېر شو او زموږ لوبې ته يې په ناراضي سترګو وکتل د شطرنج اتل چينتوويچ و. ما زياته کړه چې موږ کوچني انسانان به د هغه لوی سپکاوی د زړه له رنځه پرته وزغمو او ژوندي به پاتې شو؛ بېوزلي خلک زيات توان نه لري. خو زه حېران شوم چې زما آرامو خبرو پر ميک کانر په بشپړه توګه له انتظار بهر اغيز وکړو، سمدلاسه هېجاني شو، زموږ لوبه يې هيره کړه، او لېوالتيا يې په روښانه توګه راوپارېده. هغه نه پوهېدو چې چينتوويچ په بېړۍ کې موجود دی او وه يې ووېل چې چينتوويچ بايد هرومرو له ده سره لوبه وکړي. او زياته يې کړه چې هيڅکله يې له کوم نړېوال اتل سره لوبه نده کړې، غېر له يو ځل په عېن وخت کې له څلوېښتو نورو کسانو سره د شطرنج يوه لوبه. هغه لوبه هم خورا په زړه پوری وه، او نږدې و چې لوبه وګټي. له ما يې وپوښتل چې آيا د شطرنج له اتل سره شخصي پېژندګلوي لرم؟ ما منفي ځواب ورکړ. راته وه يې ووېل چې نه غواړم هغه سره وغږېږم او ميز ته يې راوبلم؟ ما د ده دا غوښتنه په دې دليل رد کړه او ورته وه مې ووېل چې تر کومه چې زه پوهېږم، چينتوويچ نوو پېژندګلويو ته زياته لېوالتيا نلري. سربېره پردې، کوم جذابيت کولای شي نړيوال اتل زموږ په شان درېمې درجې لوبغاړو سره د اړيکو لپاره راوپاروي؟

د لومړۍ برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ